

# اریانا یا افغانستان

## (د افغانستان لنډ تاریخ)

لومړی او دویم ټوک


لیکوال:

نجیب الله توروایانا

ژباړن:

څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدران


اریانا یا افغانستان (د افغانستان لنډ تاریخ) لومړی او دویم ټوک

ژباړن: څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدران

# Aryana or Afghanistan

## (A Short History of Afghanistan)

1st & 2nd Volume


**Author:** Najibullah Torwayana

**Translated by:** Prof.M.Sharif Zadran



ISBN 978-9936-661-83-7

2023

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د ژباړې مرکز

# اریانا یا افغانستان

## (د افغانستان لنډ تاریخ)

### لومړی او دویم ټوک


**لیکوال:**

نجیب‌الله توروایانا

**ژباړن:**

څېړنپوه دکتور محمدشریف ځدراڼ

## د کتاب ځانګړنې

**د کتاب نوم:** اریانا یا افغانستان

**لیکوال:** نجیب الله توروایانا

**ژباړن:** څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدراڼ

**ایډیټ او اهتمام:** څېړندوی ولي باز ارین

**د چاپ کال:** ۱٤۰۲ل / ۱۴۴۵ هـ ق

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** بهیر مطبعه

ISBN : ۹۷۸ -۹۹۳٦ -٦٦۱ -۸۳ -۷



**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

# ليكلړ

**سرليک** **مخگڼه**


**د مرکز نظر........................................................... ا**

**سريزه................................................................. أ**

**لومړی څپرکی........................................................ ۱۳**

**افغانستان له اريايي مهاجرت وړاندې ............................... ۱۳**

اريايان او د هغوی مهاجرت ......................................... ۱٤

اريايان په اريانا کې .................................................. ۱۵

د لومړنيو اريايانو مدنيت ............................................. ۱۹

**دويم څپرکی ........................................................... ۲۳**

**په اريانا کې د لومړني سلطنت جوړول، بخدي د لوړو بيرغونو ښار .......... ۲۳**

پاراداتا (پيشداديان) ................................................... ۲٤

د کاوه يا کواني او ياکياني کورنۍ ..................................... ۲٦

د اسپه کورنۍ ........................................................... ۲۸

ببړته زردشت او اوستا ته راگرځو...................................... ۳۱

اوستا..................................................................... ۳۲

اريانا او د هغې ولايتونه په اوستا کې ................................. ۳۵

د اريانا بخدي شاهنشاهۍ ولايتونه په لاندې ډول دي................. ۳۵

**درېيم څپرکی .......................................................... ۳۷**

**له زردشت څخه تر سکندره........................................... ۳۷**

د اريانا او اشوري جگړه ................................................ ۳۹

د فارس هخامنشیان ........................................ ٤٧
**ځلورم څپرکی ........................................ ٥٥**
**د سکندر برید او اریانا ........................................ ٥٥**
افغانستان د سکندر پر مهال ........................................ ٥٩
اریا ولایت ........................................ ٦٠
درانگیانا ولایت ........................................ ٦٠
مارگیانا ولایت ........................................ ٦٠
اراکوزیا ولایت ........................................ ٦١
گدروزیا ولایت ........................................ ٦١
باختر ولایت ........................................ ٦١
پاروپامیزاد ولایت ........................................ ٦٢
**پنځم څپرکی ........................................ ٦٣**
**د اریانا یوناني باختري دوره ........................................ ٦٣**
د گاونډیو هېوادونو د تاریخ په اړه څو کلمې ........................................ ٦٩
په هند کې ........................................ ٦٩
په ایران کې ........................................ ٧١
**شپږم څپرکی ........................................ ٧٣**
**سیتیان او پارتیان ........................................ ٧٣**
**اووم څپرکی ........................................ ٧٧**
**کوشانیان ........................................ ٧٧**
لوی کوشانیان ........................................ ٨٢
د اریانا او چین جگړه ........................................ ٨٣
اریانا او روم ........................................ ٨٤

دوهمه دوره، د کنشکا کورنۍ سلطنت ........................ ۸۵
له پارتیانو سره جګړه ........................................ ۸۶
په بره اسیا کې د کنشکا فتوحات.................................. ۸۶
کنشکا او بودایي دین ........................................... ۸۷
د کنشکا زامن .................................................. ۸۹
دوهم کنشکا ..................................................... ۸۹
هووشکا.......................................................... ۹۰
واسوداوا (۱۸۲ ــ ۲۲۰ م.)........................................ ۹۰
دوهمه دوره، کوچني کوشانیان .................................. ۹۱
**اتم څپرکی........................................................ ۹۵**
**افغانستان په کوشاني عصر او د اریانا په مدنیت کې............. ۹۵**
بودایي مذهب او په چین کې د هغه تبلیغ ......................... ۹۵
ښکلې صنایع ..................................................... ۹۷
د کوشاني عصر فکري ژوند او فعالیتونه.......................... ۹۸
**نهم څپرکی....................................................... ۱۰۱**
**هیاطله (یفتلیان)................................................. ۱۰۱**
هیاطله او ترکان ................................................. ۱۰۳
چینایان ......................................................... ۱۰۴
**لسم څپرکی ...................................................... ۱۰۵**
**د اسلام د راڅرګندېدو پر مهال د لویو دولتونو حالت ............ ۱۰۵**
**سریزه............................................................ ۱۰۸**
**لومړی څپرکی..................................................... ۱۱۱**
**د اسلام راڅرګندېدل او په اریانا کې د هغه نفوذ .................. ۱۱۱**

**دویم څپرکی ........................................ ۱۱۷**
**په اریانا کې د اسلام فتوحات ........................ ۱۱۷**
**دریېم څپرکی ........................................ ۱۲۱**
**افغانستان په اموي عصر کې ........................... ۱۲۱**
**څلورم څپرکی........................................ ۱۲۵**
**ملي غورځنګونه او عباسي خلافت........................ ۱۲۵**
عباسي خلافت........................................ ۱۲۹
خلیفه‌ګان ........................................ ۱۳۱
**پنځم څپرکی........................................ ۱۴۵**
**په عباسي عصر کې د افغانستان وضعیت.................. ۱۴۵**
**شپږم څپرکی ........................................ ۱۵۱**
**طاهریان........................................ ۱۵۱**
**اووم څپرکی ........................................ ۱۵۳**
**صفاریان........................................ ۱۵۳**
یعقوب بن لیث صفاري ........................................ ۱۵۳
عمرو بن لیث صفاري ........................................ ۱۵۹
ادبیات او ژبه........................................ ۱٦٤
د عمرو او اسمعیل ساماني جګړه ........................ ۱٦۵
**اتم څپرکی........................................ ۱٦۹**
**سامانیان ........................................ ۱٦۹**
ساماني پاچاهان ........................................ ۱۷۰
امیر اسمعیل ساماني ........................................ ۱۷۳
**نهم څپرکی........................................ ۱۸۹**

**د سامانیانو د دورې ځانګړنې او د هغوی سیاسي او اداري تشکیلات ...... ۱۸۹**
اقتصادي حالت ........................................................ ۲۰۱
په ساماني عصر کې ادبي ژوند........................................................ ۲۰۴
**لسم څپرکی........................................................ ۲۰۹**
**د اسلام له پیله د غزنوي دولت تر جوړېدو پورې د ګاونډیو او... ............ ۲۰۹**
اسلامي خلافت........................................................ ۲۰۹
عباسي دولت ........................................................ ۲۱۰
چین او تبت........................................................ ۲۱۷
هندوستان ........................................................ ۲۱۸
ختیځ روم........................................................ ۲۲۰
اروپا........................................................ ۲۲۲
**یوولسم څپرکی ........................................................ ۲۲۷**
**د غزنوي دولت جوړېدل........................................................ ۲۲۷**
الپتګین ........................................................ ۲۲۸
سبکتګین ........................................................ ۲۳۲
**دولسم څپرکی ........................................................ ۲۳۹**
**سلطان محمود او غزنوي شاهنشاهي ........................................................ ۲۳۹**
پر هندوستان د محمود لومړني بریدونه (۱۰۰۱ ـ ۱۰۰۸ م.)............ ۲۴۴
د غور الحاق (۱۰۰۹ م.) ........................................................ ۲۴۶
د خوارزم برید (۱۰۱۷ م.)........................................................ ۲۴۸
د سومنات جګړه او فتح........................................................ ۲۴۹
د سلطان محمود مړینه ........................................................ ۲۵۲
**دیارلسم څپرکی ........................................................ ۲۵۳**

**د سلطان محمود په عصر کې د اریانا تشکیلات................ ۲۵۳**
د شورا دېوان................................................ ۲۵۵
د عارض دېوان................................................ ۲۵۸
د رسالت دېوان ................................................ ۲۶۰
د اشرافو دېوان................................................ ۲۶۱
د برید دېوان ................................................ ۲۶۲
د قضا دېوان ................................................ ۲٦۲
د وکالت دېوان................................................ ۲٦۳
په ولایتونو کې حکومت ........................................ ۲٦۳
د کلیو تشکیلات................................................ ۲٦۳
د سلطان محمود پر مهال د اریانا سیمه‌ییز امیران ................ ۲٦٤
**څوارلسم څپرکی ................................................ ۲٦۷**
**د سلطان محمود بهرنی سیاست.................................... ۲٦۷**
۱ ـ سلطان محمود او ساماني دولت ................................ ۲٦۸
۲ ـ سلطان او عباسي خلیفه........................................ ۲٦۹
۳ ـ سلطان محمود او فارسي امیران ................................ ۲۷۰
۴ ـ سلطان محمود او ایلک‌خانان .................................. ۲۷۱
۵ ـ سلطان او سلجوقي ترکان ...................................... ۲۷۲
٦ ـ سلطان محمود او خوارزم ...................................... ۲۷۲
۷ ـ سلطان محمود او هندوستان .................................... ۲۷۳
۸ ـ سلطان محمود او نږدې ختیځ .................................. ۲۷۵
۹ ـ سلطان محمود او ختیځ روم..................................... ۲۷۵
**پنځلسم څپرکی ................................................ ۲۷۷**

**د محمود ځای‌ناستي ........................................................... ۲۷۷**
محمد او مسعود ........................................................... ۲۷۷
لومړی سلطان مسعود........................................................... ۲۷۸
د سلطان مسعود جګړې (۱۰۳۱ -- ۱۰۳۴ م.) ........................................... ۲۸۱
سلطان مودود........................................................... ۲۸۳
فرخزاد (۱۰۵۲ ـ ۱۰۵۹ م.)........................................................... ۲۸۶
بهرام شاه (۱۱۱۸ ـ ۱۱۵۳ م.) ........................................................... ۲۸۷
غوري غورځنګ او د غزنوي دولت راپرځېدل........................................... ۲۸۸
خسروشاه او خسرو ملک ........................................................... ۲۸۹
**شپاړسم څپرکی ........................................................... ۲۹۱**
**په غزنوي عصر کې عرفاني ژوند ........................................................... ۲۹۱**
۱ ـ محمودي دوره ........................................................... ۲۹۱
عنصری بلخي (۳۵۰ ـ ۴۳۰ هـ.) ........................................................... ۲۹۲
عسجدي مروزي ........................................................... ۲۹۳
فرخي سیستاني ........................................................... ۲۹۳
منچهري........................................................... ۲۹۳
فردوسي طوسي خراساني ........................................................... ۲۹۳
د محمودي عصر عالمان او لیکوالان ........................................................... ۲۹٤
بدیع‌الزمان........................................................... ۲۹٤
ابوعلي مسکویه........................................................... ۲۹۵
شیخ ابو علي سینا بلخي ........................................................... ۲۹۵
ثعالبي........................................................... ۲۹۶
ابو ریحان البیروني ........................................................... ۲۹۶

ابوالفضل بيهقي ........................................ ۲۹۷
ابو نصر مشکان ........................................ ۲۹۷
ابوالفتح بستي ........................................ ۲۹۸
ابوالخير ........................................ ۲۹۸
له محمود وروسته دويمه دوره ........................................ ۲۹۸
سنايي ........................................ ۲۹۹
محمد فريدالدين عطار نيشاپوري ........................................ ۳۰۰
اسد طوسي ........................................ ۳۰۱
ناصر خسرو قبادياني ........................................ ۳۰۱
مسعود سعد سلمان ........................................ ۳۰۲
عمر خيام نيشاپوري ........................................ ۳۰۲
**اوولسم څپرکی ........................................ ۳۰۷**
**غوريان يا د غور پښتانه ........................................ ۳۰۷**
تاريخي پېښو ته راګرځو ........................................ ۳۱۰
سرواڼی بستي (۲۲۳ ـ ۲۹۷ هـ.) ........................................ ۳۱۳
شيخ اسعد سوري ........................................ ۳۱٤
**اتلسم څپرکی ........................................ ۳۱۵**
سيف‌الدين محمد ........................................ ۳۱۷
سلطان غياث‌الدين محمد غوري ........................................ ۳۱۷
په هند کې د مغزالدين محمد غوری جګړې (۱۱۷۵ ـ ۱۲۰٦ م.) ........ ۳۱۸
سلطان محمد غوري (شهاب‌الدين محمد ملقب په معزالدين) ............ ۳۲۰
**نولسم څپرکی ........................................ ۳۲۵**
**د اريانا غوري دولت ځانګړتياوې ........................................ ۳۲۵**

**شلم څپرکی ........................................................................ ۳۲۹**
**په غوري دوره کې د افغانستان سیاست ............................................ ۳۲۹**
۱ ـ غوري دولت او سلجوقي دولت ............................................. ۳۳۰
۲ ـ غوري دولت او عباسي خلافت ............................................. ۳۳۰
۳ ـ غوري دولت او فارس ....................................................... ۳۳۱
۴ ـ غوري دولت او هندوستان ................................................. ۳۳۱
۵ ـ غوري دولت او خوارزم...................................................... ۳۳۲
٦ ـ غوري دولت او قره‌خطایان.................................................. ۳۳۲
**یوویشتم څپرکی ................................................................... ۳۳۳**
**په غوري عصر کې ادبي او عرفاني ژوند ........................................ ۳۳۳**
الف ـ پښتو شاعران او پښتو ادب ............................................... ۳۳٤
اسماعیل سړبنی ..................................................................... ۳۳٤
ملکیار غرشین ....................................................................... ۳۳٤
تایمنی.................................................................................. ۳۳۵
قطب‌الدین بختیار.................................................................... ۳۳۵
خرښبون................................................................................ ۳۳۵
ښکارندوی غوري ..................................................................... ۳۳۵
شیخ تیمن د کاکړ زوی ............................................................ ۳۳٦
شیخ متي .............................................................................. ۳۳٦
ب - د دري ژبې ادبیات.............................................................. ۳۳٦
ابوالحسن احمد سمرقندي........................................................... ۳۳۷
قاضي منهاج السراج ................................................................. ۳۳۷
مولانا جلال‌الدین بلخي ............................................................. ۳۳۷

**دوه‌ویشتم څپرکی ........................................................ ۳۳۹**
**د غزنوي دولت له جوړېدو څخه د مغولو تر بریدونو پورې د اسلامي، اسیایي او اروپایي هېوادونو لنډ تاریخ................................................................ ۳۳۹**
عباسي دولت ........................................................................ ۳۳۹
اندلس................................................................................ ۳٤۰
مصر.................................................................................. ۳٤۲
فارس او ماوراألنهر................................................................. ۳٤۳
خوارزمشاهان ...................................................................... ۳٤٦
هندوستان ........................................................................... ۳٤۷
ختیځ روم............................................................................ ۳٤۷
د مقدسو رومیانو او ژرمانیانو امپراتوري.......................................... ۳٤۸
د فرانکانو او فرانسې سلطنت ...................................................... ۳٤۹
انګلستان.............................................................................. ۳٤۹
صلیبي جګړې ........................................................................ ۳۵۰

# د مرکز نظر

مونږ د ارتباطاتو په زمانه کې ژوند کوو او ترجمه د ارتباط او مفاهمې یوه مهمه وسیله او طریقه ده. همدارنګه د دې وسیلې او طریقې په مرسته د علومو او فنونو زېرمو او سرچینو ته لاره پیدا کوو او معرفت حاصلوو. څرنګه چې د ژباړې فن د بشري ټولنو له جوړېدا سره سم پیل شوی او د دوی له غوښتنو سره په تړاو یې انکشاف کړی، نو دې ټکي ته په پام، په هېواد کې د اسلامي امارت تر قیام وروسته د علومو اکاډمۍ په چوکاټ کې د ژباړې مرکز ایجاد شو. هدف یې دا دی، چې د هېوادوالو علمي، فرهنګي او تخنیکي اړتیاوو ته په کتو د علومو، فنونو او ټکنالوژۍ د بېلابېلو ډګرونو اړوند اړین او زبده آثار د هېواد ملي او رسمي ژبو ته راواړوي او خپاره یې کړي.

د علومو او فنونو وده او پرمختیا د پوهې په راخپلولو کې د بشر د پرله-پسې هلو ځلو او تجربو نتیجه ده، چې د نړۍ تر ټولو غوره علمي او فرهنګي میراث بلل کېږي او د نړۍ فرد فرد ته په کار دي، چې پکې ونډه ولري. د دغې ونډې د جوتونې یوه نېغه او آسانه لار د نورو له تجربو څخه استفاضه او استفاده ده. د ژباړې مرکز غواړي، چې له دغې لارې څخه په ګټه د دغو او دې ته ورته نورو علمي او فني آثارو د ژباړې او خپراوي پر مټ د خپل دین، وطن او ثقافت د ودې او پرمختیا په هڅه او هاند کې خپله ملي او اسلامي فریضه ادا کړي.

د ژباړې مرکز ویاړي، چې د ایجاد له وخته یې تر اوسه په لسګونو علمي او تخصصي آثار د هېواد ملي او رسمي ژبو ته را اړولي او خپاره کړي دي او دا دی، د دې علمي او تخصصي اثر ژباړې او خپراوي سره د علم او معرفت د

تعمیم او ترویج په لاره کې یو بل مهم او مستحکم ګام اوچتوي. مرکز د ژباړن، مصحح او مهتمم مننه کوي، چې د دې اثر د ژباړې، تصحیح او اهتمام کار یې په پوره لېوالتیا، مینې او اتقان سره ترسره کړی دی.

د ژباړې مرکز د اسلامي، بشري او طبیعي علومو، فنونو او نورو مؤثقو معلوماتي آثارو د ژباړې، تصحیح، اهتمام، طباعت او اشاعت د چارو د بهبود لپاره د هېواد دننه او له هېواده بهر د ژباړونکو مشورې او همکارۍ ته د قدر په سترګه ګوري او ژمنه کوي، چې د دوی ژباړلي آثار به خپلو وسیلو او امکاناتو ته په پام په لوړ معیار او کیفیت چاپ او خپروي. هیله ده، چې درانه لوستونکي د مرکز د ژباړل شوو او خپرو کړو آثارو د بډاینې او بهبود په اړه خپل نظرونه، وړاندیزونه او سپارښتنې له مرکز څخه ونه سپموي.

په درنښت

د ژباړې مرکز

# سریزه

افغانستان د نړۍ په تاریخ کې مهم موقعیت لري او د تاریخي دورو په هره دوره کې په دغه هېواد کې لوی دولت موجود و او د افغان ملت ځواک په بېلابېلو بڼو څرګند شوی دی.

که چېرې د دې هېواد د تاریخ بېلابېلې دورې په سم ډول وګورو کړو او پېښې له علمي نظره مطالعه او لاملونه یې وپلټو، وبه وینو چې د زمانې په اوږدو کې د مدنیتونو او د ژوندانه له بېلابېلو بڼو، اختلافونو، ډولونو او طریقو سره سره د افغانستان د وادیو او غرنیو سیمو د اوسېدونکو د ټولنیز ژوند تهداب او بنسټ او هم د ملي ژوندانه جوهر او اصل یو شی دی یا په بل عبارت په دغه هېواد کې ملي روح ژوندی، تلپاتې او نه‌بدلېدونکی پاتې شوی دی. په دې هېواد کې له زمانو راهیسې بېلابېل دینونه، ژبې او مدنیتونه منځ ته راغلي او نفوذ یې کړی دی، خو هېڅکله یې د خلکو ټولنیزې ځانګړتیاوې نه دي بدلې کړې او افغانان همېشه په ټوله معنا افغان پاتې شوي دي.

د لوېدیځ او ختیځ ځینې لیکوالان د کافي بشپړې بلدتیا او اطلاع د نه‌لرلو له امله ادعا لري، چې افغانستان په لرغونو او منځنیو پېړیو کې په تاریخي، طبیعي او سیاسي ډول شته‌والی نه درلود، بلکې دغه هېواد د روسیې او لویې برتانیې د دوو امپراتوریو د مخالفتونو په پیل کې وزېږېد. هغوی به ډېر ژر خپلې سهوې او اشتباه ته متوجه شي، ځکه حقایق نه پټېږي. ملتونه بیدارېږي، په خپل تېر او راتلونکي تاریخ پوهېږي، خپل تاریخي اسناد لولي، خپلو اولادونو ته تعلیم ورکوي او نړۍ ته یې اعلانوي.

ډېر ژر به د وطن یو شمېر پوهان د افغانستان د مدنیت او ادبیاتو د تـاریخ د پرمختګ په موخه راغونډ شي، لاس په کار به شي او په څو کـالونو کـې بـه د دغه ملت د زرین ژوندانه له پاڼو ګردونه وڅنډي. هغوی وروسـته لـه څـو کـالونو بریالي شوي چې د حقایقو له مخې پرده لرې کـړي او خپلـو اولادونـو، زامنـو او لمسیانو ته د افغانستان د نومیـالیو ژونـد او احـوال بیـان کـړي. هغـوی بریـالي شول چې د افغانستان د تـاریخ هېـرې شـوې دورې بیـا وریـادې کـړي او د دې هېواد له ویاړه ډکې صحنې او لویي بیا راژوندۍ کړي.

د هغوی هڅو نه یوازې د هېواد دننه د افغانستان د تېر تاریخ او د افغانانو د معنوي ځـواک لـه مظـاهرو سره د روښـانفکرانو قشرـ اشـنا کـړ، بلکـې بهـرني څېړونکي او لیکوالان یې هم د ځان مرهون ورګرځول.

نن ورځ له یو لږ شـمېر څخـه پرتـه چـې پـه ځینـو بهرنیـو هېوادونـو کـې د معلوماتو د نشتوالي او تعصب په وجه له حقایقو انکار کوي، نـور د علـم، ادب او تاریخ په ټوله نړۍ کې د افغانستان سیاسي، ادبي او تمدني موجودیت ثابت او مسلم دی او هره ورځ پر هغه تازه او مسلم حقایق ور زیاتېږي. په دې لـړه مـوده کې د دې کامیابۍ علت نه یوازې د هغو شخصیتونو هڅې او زحمتونه دي چې په دې لاره کې یې همت کړی دی، بلکـې د هغـوی مسـتندې او پـر اسـنادو او حقایقو ولاړې لیکنې دي چې د شک او تردید ځای یې نه دی پرې ایښی.

نـن ورځ هـر کـس پـوهېږي چـې د پـرون اریانـا او د نـن افغانسـتان پـه انګلستان او روسیه کې د ټولنیز نظم او مدنیت له ټینګولـو وړانـدې د پاچـاهۍ لویې دورې له سره تیرې کړې وې او لـه سـیاسي پلـوه یـې خـورا مهـم موقعیـت درلودلی دی.

نن ټول پوهېږي چې د ساکسون او نورماندي پاچاهانو انګلستان لا په بشپړه توګه نه و نیولی او ماسکو (مسکو) ګراندوکانو (د اروپایي پاچاهانو لقب دی) د روسیې د سلطنت بنسټ نه و ایښی چې د اسیا لوی سلطنتونه په افغانستان کې جوړ وو او له دې پلوه ډېرې دورې تېرې شوې وې.

پس د دې ځای نه پاتې کېږي چې افغانستان د روس او انګلیس د سیالۍ زېږنده وګڼي او ددې لپاره یې د حایل په توګه وپېژني، چې دوه لویې امپراتورۍ هم سرحده نه وي.

موږ نه وایوو چې د افغانستان جغرافیایي موقعیت د روسیې او برتانیې امپراتوریو ترمنځ د افغانستان پر ژوندانه او موجودیت باندې په نړدې دورو کې هېڅ اغېز نه درلود، ځکه د هر هېواد او ملت په تاریخ کې د ګاونډیانو سیاست او د هغوی اړیکې اغېزمنې دي او هېڅ یو لوی او کوچنی هېواد چاره نه لري، خو هدف دا دی چې د حقیقت او تاریخي شواهدو پر خلاف باید افغانستان د دغو سیالیو زېږنده ونه ګڼو، بلکې افغانستان یو لرغونی او تاریخي هېواد دی چې د تاریخ په اوږدو کې یې ځانګړې جغرافیه، تاریخ، فرهنګ، ژبې او ادبیات، مدنیتونه، دولتونه او حکومتونه درلودل. په دې ډول د دوو امپراتوریو تر منځ حایلي وجود هم لازمي نه دی او ډېر لوی هېوادونه د یو بل په ګاونډ کې د ګډو له اختلافونو سره سره بیا هم ژوند کوي. د هغوی سوله او جګړه د وخت د اړتیاوو او د هر هیواد په ملي ګټو پورې اړونده ده او د حایل وجود او نشتوالی نه‌شي کولی د هغې لامل وګرځي.

په تېره پېړۍ کې روسي او انګلیسيـ دولتونو د منځنۍ اسیا د واک او استعمار لپاره مبارزې او هلې‌ځلې وکړې. روسیه پر اسیایي هېوادونو چې د

اورال پـه ختـيځ او جنـوب او پـه منځنــۍ اسـيا کـې پراتـه وو، بریـالـۍ شـوه او انګلیس هم د هند لویه او پراخه خاوره ونیوله، خو د دغو دواړو یرغلونـو سـېلاب د افغانستان په حدودو او لمنو کې ودرېد سره له دې چې لـه دغـو دوو دولتونـو څخه هر یو په تېره پېړۍ کې د خپل نفوذ د پراختیا لپاره تشبث وکړ، خو د دې هېواد خپلواکي او سیاسي موجودیت وساتل شـو. کـه چېـرې غـور وکـړو چـې د هغه علت څه و، ولې دغه دوه امپراتورۍ د افغانستان پر نیولو بریالـۍ نه شـوې، ولې همداسې یو دولت د افغانستان په شمال او یا په جنوب او یا په ختیځ کـې د روسیې او برتانیې د امپراتوریو تر منځ جوړ نه شو؟ څرګنده ده چـې اصـلي او اساسي علت یې په‌خپله په افغانستان کې و، هغه بایـد پـه بهـر کـې ونـه‌لټوو او باید اعتراف وکړو چې په دې برخه کـې نـورو لاملونـو فرعـي او مرسـتندوی رول درلود. د دې هېواد (افغانستان) موجودیت د هغـه د زړورو او ځواکمنـو زامنـو د سربښندنو او ازادۍغوښتنې محصول و.

دا هم باید ووایو چې په تېره پېړۍ کې برعکس،د افغانستان موجودیـت او د افغان ملت حریت او ازادي‌پالنې د نړۍ په دغه سیمه کې د سولې په پایښت او د انګلیس او روس د امپراطوریو تر منځ د ټکر په مخنیـوي کـې لـوی خـدمت کړی دی او د خونړیو جګړو او لویو فجایعو باب یې تړلـی دی؛ د شـک او تردیـد ځای نه دی که چېرې په تېره پېړۍ کې افغان ملـت د ازادۍ او وطـن دفـاع پـه ځان ، مال او په اتحاد سره نه وای کړي چې د دوی له ځانګړتیاوو څخـه دي، د جګړې میدان ته حاضر شوي نه وای، نو هرو مرو بـه د نـورو قومونـو پـه څېـر لـه دغو لویو دولتونو څخه د یو په اطاعت او اسارت کې راتلل، د اسیا په دغه برخـه کـې د لـویې برتـانیې او روسي امپراتـورۍ تـرمنځ خـونړۍ او بربـادونکې جګـړه

پېښېده او لمبو يې تر ډېرو کالونو دوام کاوه او د دغو دوو هېوادو پر ټولنيز ژوند او په غيرمستقيم ډول يې پر نړېوال سياست ژور اغېز ښنده.

گومان کوم هغه دلايل چې ما دلته وليکل کافي دي ښه ده چې په دې اړه زيات ونه‌غږېږو او ځينې نور ټکي تر بحث لاندې ونيسو. ځينې بهرني ليکوالان وايي چې افغانستان د اعليحضرت احمدشاه ابدالي له وخته جوړ شوی دی او د دې هېواد تېر تاريخ په افغانانو پورې اړه نه لري. هغوی له دې پرته بل دليل نه لري چې هغه وخت د افغانستان نوم* په رسمي توگه د دې هېواد لپاره ټاکل شوی و. ځرگنده خبره ده چې دا اساسي دليل نه دی او هغه کسان چې يو هېواد د نامه د ټاکلو او بدلولو له مخې په دوو تاريخونو وېشي، د هغوی استدلال ماشومانه دی. ايا ايټاليا له ۱۸۷۰م. څخه وړاندې تاريخ نه درلوده، عثماني خلافت او دولت تاريخ په ننني ترکيه پورې متعلق نه دی؟ د روس د امپراتورۍ تاريخ د حکومت د بدلون او د شوروي د سوسياليستي جمهوريتونو د اتحاد د نامه کېښودلو له امله په هغه هېواد پورې اړه نه لري؟ تاريخ گول د فرانسې نه دی؟ او د ژرمانيا د منځنيو پېړيو تاريخ په اوسني المان پورې اړه نه لري؟ او داسې نور.

که چېرې دغه ټول هېوادونه او ملتونه تاريخ نه لري، افغانستان هم تاريخ

---

* د ((افغانستان)) نوم له زرو کلونو زياته سابقه لري. ابو ريحان البيروني لومړنی عالم و چې په خپل اثر (کتاب الهند) کې چې په ۴۲۳ق. ۱۰۳۱م. کال يې وليکه. د افغانستان نوم د پښتنو د اوسېدو ټاټوبي ته وکاروه. شايد تر البيروني څو سوه کاله وړاندې په سيمه کې د افغانستان نوم رواج درلود چې هغه په (کتاب الهند) کې وکاراوه. زموږ پر هېواد احمدشاه بابا دغه نوم نه دی ايښی، ځکه د هغه په وخت کې د خراسان نوم هم باب و. د افغانستان نوم ۱۰۱۹ کاله عمر لري او د خپل سياسي او ټولنيز تکامل پړاوونه يې وهلي او په تدريج سره يې د خراسان ځای ونيو.(ژباړن)

نه لري. یو شمېر وايي چې ګواکې د افغانستان طايفې، قبيلې او قومونه ډېر دي او څو لهجې وجود لري، له دې امله په دې هېواد کې واحد ملت نه شته.

هغوی ځکه غافل دي، چې د نړۍ د ملتونو هېڅ یو ملت له یوې طايفې او قوم څخه نه دی جوړ شوی او هېڅ لوی هېواد نه شته چې په هغه کې دې بېلابېلې لهجې نه وي، بلکې د زمانې په اوږدو کې ټولو هېوادنو ته قومونه او طايفې راغلې دي او له پخوانيو اوسېدونکو سره کم او زيات ګډ شوي دي.

ايا په فرانسه کې بروتونان؛ پرووانسالان د سيمه‌ييزو ژبو لرونکي نه دي او هغوی ټول له یوې طايفې او قوم څخه دي؟

ايا په لويه برتانيه کې سکاټلنډيان، ګالوان او انګرېزان له یوې طايفې او قوم څخه دي او جلا لهجې نه لري؟ ايا په ايران، چين، جاپان او خلاصه په ټولو هېوادونو کې همدغسې حالت په نظر نه راځي؟

که چېرې په ټولو هېوادونو کې ملت وجود ونه‌لري، په افغانستان کې به هم ملت وجود ونه‌لري. خو بايد يادونه وکړم تاريخ شاهد دی چې د دې هېواد اکثريت اوسېدونکو، طايفو او قومونو ، انګلستان ته د انګلوساکسون، فرانسې ته د فرانکانو، کوچنی اسيا ته د ترکانو او مصر ته د عربو له ورتګ وړاندې په افغانستان کې اوسېدل اختيار کړي، د واحدې ادارې او کلتور تر سيوري لاندې يې ژوند کړی دی، ملي ګټې يې مشترکې وې او د غم او ښاديو په ورځو کې د يو او بل تر څنګ ولاړ وو او دي.

هغوی ټول افغانان دي او له توپير او امتياز پرته په دې هېواد کې برابر حقوق او دندې لري.

بله نيوکه چې زموږ د تاريخ په اړه کېږي هغه دا ده چې د افغانستان تېر

دولتونه افغاني نه وو. په داسې حال کې چې ټول دولتونه په دې هېـواد کـې د زمانو او پېړیو په بهیر کې تېر شوي او نومونه يې د نړۍ په تاریخ کـې پـه زرینـو کرښو کښل شوي دي افغاني وو او د هغوی مرکز هم اوسنی افغانستان یا اریانا و.

د بېلګې په توګه وایي چې د ناصر کورنۍ په اصل کې له ترکسـتان څخـه وه او باید غزنوي دولت افغاني ونه پېژنو، په داسې حال کې چې د ناصر کـورنۍ د افغانستان په چاپېریال کې وده کړې، د سلطنت مرکز يـې پـه همـدې خـاوره کې و دولت یې د همدې هېواد له اوسېدونکو څخه جوړ شوی و او عسکر یـې د دې هېواد دلاوران وو، ژبه، رواجونه او عنعنات یې هم د دې هېواد ژبـه، عـادات او عنعنات وو، حتی په وینه کې هم د افغانستان له خلکو سره ګـډ وو او ځانونـه یې غزنویان ګڼل. د غوریانو د واکمنو او نورو په اړه خبرې نه کوو، ځکه د هغوی په بومیتوب کې د شک او تردید ځـای نـه شـته. لـه سـلګونو کـالونو راهیسـې د دوی پلرونه او نیکونه د افغانسـتان د غرونـو پـه غېـږ کـې روزل شـوي وو، خـو د هرات د تیموریانو په اړه چې د هغوی دولت په همدې هېواد پـورې اړونـد و او د هغوی دوره په افغانستان کې له مغولو وروسته یـوه لـه ښـو تـاریخي دورو څخـه ګڼل کېږي.

که چېرې د هـرات د تیمـوري پاچاهـانو او د تیموریـانو تـر منـځ تفـاوت او توپیر په نظر کې ونیسو او د ژبې، عرف، عنعنـاتو، عـاداتو او د هـرات د دربـاري مراسمو له نظره یې د ماوراألنهر له دربارونو سره پرتله کړو، نو څرګنـدېږي چـې د هرات دربـار د مغـولي او ترکـي دربـارونو پـه لیکـه کـې نـه حسـابېږي، بلکـې برعکس پر اختلافاتو سربېره د هرات تیموري دولت همېشه له شمالي ګورګاني (د ګورګاني سمه بڼه ګورکاني ده او ګورکان د زوم په معنا دی. ژباړن) او ترکـي

دولتونو سره سيالي درلوده.

هغه کسان چې د هرات حکومت ترکي ګڼي، د دوی دلیل دا دی چې د دې لړۍ واکمنان د تیمور ګورکان له اولادونو، زامنو او لمسیانو څخه وو. د دوی ادعا داسې ده لکه چې د هسپانیا د بوربونیانو دوره په فرانسه پورې اړونده وګڼي.

په افغانستان کې له اسلام څخه وړاندې په مختلفو دورو کې یوازې یوناني ــ باختري دولت یا د هندوکش په جنوب کې یونانیان ممکن په غیرافغاني دولتونو پورې وتړي او لنډفکره کسان هغوی د غیرافغاني په توګه وپېژني. خو وروسته له فکر او څېړنې ښکاري چې یونانیانو په ختیځو هېوادونو کې له اوسېدو وروسته په بشپړه توګه د ختیځو هېوادونو عادات او رسوم غوره کړل، حتی د خپل چاپېریال مذهب او ژبه یې هم ومنل ویل کېږي چې له څه وخته وروسته د باختري یونانیانو او یونان تر منځ په ژبه، رسومو، عنعناتو او مذهب کې څرګند تفاوت رامنځ ته شوی و.

د افغانستان یوناني دوره یا په بل عبارت باختري ــ یوناني دولت له سکندر وروسته په بشپړه توګه په افغانستان پورې متعلق دی، ځکه د یونانیانو له راتګ وروسته د یو څه وخت په تېرېدو سره د هغوی د ژوند بنسټ دلته کېښودل شو، د دوی خلک د همدې هېواد له اوسېدونکو څخه وو او په هغه دولت کې یې د افغانستان د هماغه وخت ژبه، مذهب او عادات رواج او پلي کړل.

حتی په یوناني خط او کتابت کې چې آثار یې پیدا شوي دي، د افغانستان معمول خط هم تر سترګو کېږي. د ګریکو ـ بودیک هنر یا د یونان

او بودايي فن چې په هماغه دوره کې رامنځ ته شوی و او وروسته ګاونډیو ملکونو ته خپور شوی و، په ځانګړې توګه د همدې هېواد ګڼل کېږي.

که چېرې د یونان د معنوي ژوند او ښکلو فنونو نفوذ د همدغه دولت د یوناني کېدو دلیل وبولو، نو د بشر د تاریخ له دورو څخه هېڅ دوره یوه هېواد ته هم نه شو منسوبولی، ځکه انسانان همېشه د یو او بل له مدنیت څخه اغېزمن وو او همېشه د جګړو او ملتونو د ټکرونو په وجه د یو قوم ځانګړتیاوو پر بل قوم اغېز شیندلی او ور لېږدول شوې دي.

د بېلګې په توګه د یونان د مدنیت سرچینه هم له ختیځ څخه ده. د فرانسې مدنیت د روم د مدنیت زېږنده دی. د ختیځ هېوادونو اوسنی مدنیت د لوېدیځ مدنیت پر بنسټ ولاړ دی او بیا په خپل وار سره د لوېدیځ مدنیت د یهودو، رومیانو او د ختیځو ملتونو مدیون او پوروړی دی.

د افغانستان د سیتیانو او پارتیانو (دا دواړه اریایي قومونه دي. ژباړن) دولتونه، کوشانیان، کابل‌شاهان او سیمه‌ییز حکومتونه چې د اسلامي سوبو او فتوحاتو پر مهال په افغانستان کې موجود وو لکه غوري دولت د بحث وړ نه ګرځي، ځکه د هغوی سلطنتي کورنۍ په اصل کې د همدغه هېواد اوسېدونکي و، یا دا چې څه موده مخکې سلطنت ته ورسېدل، افغانستان ته راغلل او د دغه هېواد له خلکو سره حل او ګډ شول.

هیاطله یا یفتلیان چې په افغانستان کې یې له لویو کوشانیانو وروسته د یو ځواکمن خو نه‌پایښت‌کوونکي سلطنت طرحه جوړه کړه، هم له خپل حکومت څخه ډېر کالونه مخکې په تخارستان کې مېشت شول او دا دولت یو افغاني دولت و.

هغه کسان چې شجرې او د سلطنتي کورنیو اصل او نسب په تاریخ کې مطالعه کوي او دولتونه د هغوی پر بنسټ ملتونو او هېوادونو ته منسوبوي، تیروتنه کوي، ځکه که چېرې له دې نقطې نظره د هېوادونو تاریخ تر مطالعې لاندې ونیسي، نو د انګلستان نننی دولت ته باید الماني دولت وویل شي، ځکه د لویې برتانیې سلطنتي کورنۍ د نورماندي په کورنۍ او لړۍ پورې تړلې ده او زوی یې هم له انګریزي ژبې سره بلد و او دغو دواړو پاچاهانو له خپلو وزیرانو سره په لاتیني ژبه خبرې کولې. په ایران کې د قاجاري حکومت دوره باید د ترکانو حکومت حساب کړو، ځکه چې قاجاریان ترکان وو او تر یو وخته د دوی په دربار کې په ترکي ژبه خبرې کېدې.

د بلغاریا نننی حکومت باید یو الماني حکومت وګڼو، ځکه موجوده بلغاریایي سلطنتي کورنۍ په اصل کې الماني ده. د مصر نننی حکومت باید البانیایي وګڼو، ځکه چې لوی پاچا محمدعلی له البانیایي سربازانو څخه و.

د هند مغولي دولت ته باید مغولي او تیموري ووایو، ځکه بابر، اکبر او شاه‌جهان له ګورګاني (ګورکاني) واکمنانو څخه وو. په فرانسه کې مرونژینانو او کارولن‌ژینانو د واکمنۍ دوره د المان په تاریخ پورې اړونده وګڼو، ځکه هغوی له ختیځ څخه فرانسې ته راغلي وو او داسې نور.

نو ثابته شوه چې د هېوادونو تاریخ د سلطنتي کورنیو د شجرو یا د هغوی د اصل او نسب له نظره په نورو ملتونو او هېوادونو پورې نه شو تړلی، بلکې برعکس هر دولت چې د یو هېواد په خاوره کې جوړېږي د هغه هیواد له خلکو مرکب وي او په نوموړې هېواد کې مدنیت منځ ته راوړي، نو په هغه هېواد پورې متعلق دی.

یو شمېر لیکوالان هېوادونه او ملتونه د یو بل هېـواد د مـوقتي اسـتعمار او واک پر بنسټ په هغه پورې تړلي ګڼي، خو هغوی حق نه لري، ځکـه د بشر۔یت په تاریخ کې هېڅ یو داسې هېواد نه شته چې د کـم او زیـات وخـت لپـاره د یـو بل هېواد تر واک لاندې نه وي راغلی او یا یې پر بل هېـواد بـری او واک نـه وي موندلی.

د بېلګې په توګه روم د ډېر وخت لپـاره پـر فرانسـه، هسـپانیا او انګلسـتان باندې حکومت وکړ؛ خو نه شـو کـولی چـې د فرانسـې، انګلسـتان او هسـپانیې تاریخ د ایټالیې یوه برخه وګڼو؛ (یا د ډیورنډ د استعماري او تحمیلي توافق‌لیک له مخې د پښتنو او بلوڅو خاوره د انګلیس په سیمه کـې د انګلـیس پـه لاس د جوړ شوي دومینیون او مزدور هېواد پاکستان د قلمرو یوه برخه وګڼو. ژباړن) یـا د ایران تاریخ د عربـو، ترکـو او افغـان د تـاریخ یـوه برخـه وګڼـو او یـا د لهسـتان (پولنـډ) تـاریخ د روسـیې، المـان، اطـریش او مجارسـتان وګڼـو. دغـه راز د افغانستان تاریخ هم د هغـه پـه ګاونـډیانو پـورې مربـوط نـه دی او نـه هـم کـوم ولایت دی چې له نورو دولتونو بېل او خپلواک شوی وي.

که څېړې افغانستان د څه وخـت لپـاره د پردیـو تـر واک لانـدې ژونـد تېـر کړی وي، پردیو هم د افغانانو تر واک لاندې اوږده کالونه تېر کړي دي.

د پارتیانو، باختریانو، کوشـانیانو، یفتلیـانو، سـیتیانو، صـفاریانو، غزنویـانو، غوریانو، خلجیو (غلجیو)، هوتکیانو او ابدالیانو دروې یې بیلګې دی.

رودکي د ایران په کوم ښار او د چا په دربار کې اوسېده؟

رابعه بلخي د کوم ځای ده؟ فرخي سیستاني له کوم هېواد څخه و؟

آیا رشید او طواط له بلخ څخه نه دي ایا د فارسي ادبیاتو رڼـه سـتوري د

غزني په اسمان کې په ځلېدو نه وو، د ایرانیانو د ویاړ وړ فردوسي طوسي کوم دربار ته راغی او کوم چاپېریال یې د خپل اثر د کښلو لپاره مناسب او ملایم پیدا کړی و؟ دقیقي، ابوالمؤید بلخي او سنایي د کوم ځای وو او په کوم چاپېریال کې تر پالنې او روزنې لاندې وو؟ نو ثابته ده چې د دې ژبې د ثقافت مرکز افغانستان و او اوسنی ایران له دغه پوهنیز او عرفاني کانون څخه ګټه اخلي.

مونږ نه غواړو د هغو فکرو لیکوالانو په څېر دا موضوع د افغانستان فتوحات او نفوذ اساس وګرځوو او اوسنی ایران د لوېدیځ پر لور د افغانستان امتداد او اوږدوالی وګڼو او د فارس تاریخ د افغانستان د تاریخ جز او یوه برخه وګڼو، خو د دې لپاره چې دغه باب وتړل شي او د تاریخ جعل کوونکي خاموش او ارام شي، له یادونې مې ډډه ونه کړای شوه. مونږ پوهېږو چې ایران د افغانستان په څېر روښانه او ځلېدونکی تاریخ لري. له اسلام نه وړاندې د هخامنشیانو او ساسانیانو دوره او په وروستیو وختونو کې د صفاریانو دوره د بشریت د تاریخ شانداري دورې دي او ارزي که چېرې ایرانیان پر هغه ویاړ وکړي، خو هیله لرو چې د ایران ځینې لیکوالان د حقیقت او سلامت په خلاف د خپلو ګاونډیانو په تاریخ کې لاسوهنې او جعل کارۍ څخه لاس واخلي او پر ځای یې د دې هېواد له لیکوالانو سره په دې برخه کې هڅې شریکې کړي او د دغو دواړو دوستو او وروڼو هېوادونو مادي او معنوي رشتې له اوږدو زمانو راهیسې له یوې او بلې سره ونښلوي، ترڅو د افغان او ایراني اولادونه وپوهېږي چې د دغو دوو ازادو او خپلواکو هېوادونو دوستي او یووالی یو طبیعي کار دی.